# د محمد الياس د هائيکو فکري او فني اړخونه

**په حواله "دېوالونو ته لګيا يم"**

تحقيقي پراجيکټ بي ايس پښتو

**پراجيکټ سپروائيزر:**
ډاکټر محمد عثمان
اسسټنټ پروفېسسر

**مرستيال سپروائيزر:**
امتياز احمد
اسسټنټ  پروفېسر

پۀ پراجيکټ کار کوُنکي طالب علمان

| | | |
|---|---|---|
| وسيم خان | کالج رولنمبر: 205714 | رجسټرېشن نمبر 20-AU-GPCM-14 |
| محمد نواز | کالج رولنمبر: 205728 | رجسټرېشن نمبر 20-AU-GPCM-27 |

Ketabton.com

عبد الولي خان يونيورستي مردان

**(2025-2021)**

عبدالولي خان يونيورستي مردان
(2021-2025)

ketabton.com - The Digital Library

# د محمد الیاس د هائیکو فکري او فني اړخونه

**په حواله "دېوالونو ته لګیا یم"**

## تحقیقي پراجیکټ بي اېس پښتو

**پراجیکټ سپروائېزر:**

ډاکټر محمد عثمان
اسسټنټ پروفېسر

**مرستیال سپروائېزر:**

امتیاز احمد
اسسټنټ پروفېسر


پۀ پراجیکټ کار کوُنکي طالب علمان

| | | |
|---|---|---|
| وسیم خان | کالج رولنمبر: 205714 | رجسټرېشن نمبر 20-AU-GPCM-14 |
| محمد نواز | کالج رولنمبر: 205728 | رجسټرېشن نمبر 20-AU-GPCM-27 |

ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج مانسهره

**(2025-2021)**

عبدالولي خان یونیورسټي مردان
(2021-2025)

ketabton.com - The Digital Library

# Approval sheet

Tittle of Project:

**د محمد الیاس د هائیکو فکري او فني اړخونه**

Name of Students:

Waseem Khan, Muhammad & Muhammad Nawaz.

Accepted by the department of Pashto, Government Post Graduate College Mansehra In Partial Fulfillment of the requirement for the BS degree in Pashto literature.

| | |
|---|---|
| Doctor: M-Usman. | Imtiaz Ahmed |
| Assistant Professor | Assistant Professor |
| Department of Pashto | Department of Pashto |
| Supervisor | Supervisor |

Viva Voce committee:

Viva Evaluates:

Chairmain: Date:________________

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

ketabton.com - The Digital Library

# تصدیق نامه

ښاغلیو خپله د بي اېس تحقیقي مقاله **" د محمد الیاس د هائیکو فکري او فني اړخونه"** زما
پهٔ نګرانۍ کښې پهٔ ډېر محنت سره بشپړه کړه ـ زهٔ د دوي د تحقیقي کار او
زیار نه مطمئین یم ـ پهٔ دغه اساس زهٔ غواړم چې دا تحقیقي مقاله د بي اېس
د ډګرۍ د نورې کاروائۍ د پاره وړاندې کړې شي ـ

نګران
امتیاز احمد
اسسټنټ پروفېسر
پښتو څانګه
ګورنمنټ پوسټ ګریجوویټ کالج مانسهره

ketabton.com - The Digital Library

## لړلیک

Approal sheet ........................................................................

تصديق نامه ........................................................................

سريزه ........................................................................

وړومبے باب........................................................................

د محمد الياس د ژوند حالات او ادبي خدمات ........................................

کور کلے او شخصي پيژندګلو:........................................................ 11

وادهٔ اولاد:........................................................................ 12

مشغله: ........................................................................ 12

تعليم: ........................................................................ 12

ملازمت:........................................................................ 12

تصانيف ........................................................................

چاپ اثار: ........................................................................ 13

"شور مي د قلم پهٔ ژبه راوله:........................................................ 13

د رڼا رنګونه: ........................................................................ 13

فکر مي سندره شوه: ........................................................................ 14

ديوالونو ته لګيا يم:........................................................................ 14

د معذورى پهٔ اړه د ماشومانو کتاب:................................................. 15

پردے حق:........................................................................ 14

ناچاپ آثار: ........................................................................ 15

حوالې........................................................................

دوېم باب ........................................................................

د هائيکو روايت او ارتقاء........................................................................

د هائيکو ارتقاء:........................................................................ 20

جاپاني هائيکو شاعران:........................................................................ 20

په جاپان کښي د هائيکو هيئتونه: .................................................... 21

هائيکو پهٔ پښتو کښي:........................................................................ 22

پښتو کښي د هائيکو شاعران:........................................................ 24

غزليه هائيکو:........................................................................ **Error! Bookmark not defined.**

ketabton.com - The Digital Library

نظمیه هائیکو: **Error! Bookmark not defined.**
حوالې
دریم باب 27
د محمد الیاس د هائیکو فني اړخ 27
فن: 28
د محمد الیاس د هائیکو هیئتونه: 28
د محمد الیاس د هائیکو هیئتونه: 28
مسلسل هائیکو: 29
غزلیه هائیکو: 30
نظمیه هائیکو: 31
غدار حاکمان: 32
وخت: 32
اصلاح: 33
پلاننګ: 33
تاسو چرته وئ: 34
حوالې
څلورم باب 36
د محمد الیاس د هائیکو فکري اړخ 36
جمالیات 36
حقیقت نګاري 36
قوم پرستي 36
تنقید نګاري 36
طنز و مزاح 36
فکر: 37
د محمد الیاس هائیکو کښې فکري اړخ: 37
جمالیات: 38
د محمد الیاس پۀ هائیکو کښې د جمالیات رنګ: 39
حقیقت نګاري: 40
د محمد الیاس هائیکو کښې حقیقت نګاري: 41
قوم پرستي: 42
د ښاغلي محمد الیاس هائیکو کښې قوم پرستي: 43
تنقید نګاري: 44

ketabton.com - The Digital Library

د محمد الیاس هائیکو کښې تنقید نګاري: ........ 45
مزاح: ........ 46
د محمد الیاس هائیکو کښې مزاح: ........ 46
حوالي ........ [illegible]
پينځم باب ........ 49
د تحقيق خلاصه ........ 49
نتائج ........ 49
کتابيات ........ 49

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

ښاغلے محمد الیاس د ضلع ملاکنډ طوطه کان کلي اوسېدونکے دے محمد الیاس الیاس زمونږ د دور په شاعرانو کښې یو ډېر مشهور شاعر دے ـ خپلې شاعرۍ کښې ئې د وطن سیاسي او سماجي حالات بیان کړي دي ـ محمد الیاس دا وخت په دمام سعودي عرب کښې د کار روزګار په سلسله کښې د ژوند ورځې شپې تېروي ـ

محمد الیاس د ملک نه بهر اوسیږي خو د خپل ملک په سیاسي، سماجي او معاشي حالاتو باندې ژور نظر او فکري لري ـ دغه فکر یې شاعرۍ ته وربخښلے دے ـ مونږ د ښاغلي محمد الیاس د کتاب "دېوالونو ته لګیا یم" مطالعه د خپل شوق د پاره کوله ـ څه وخت چې د بي ایس د پراجیکټ د پاره د موضوع خوښولو مرحله راغله نو مونږ د محمد الیاس په هائیکو باندې کار شروع کړو ـ د دې پراجیکټ وړموبے باب د محمد الیاس د ژوند حالاتو باندې مشتمل دے ـ دوېم باب د هائیکو روایت او ارتقاء باندې مشتمل دے ـ درېم باب د محمد الیاس د هائیکو فني اړخ، څلور باب د محمد الیاس د هائیکو فکري اړخ او پینځم باب کښې د تحقیق خلاصه وړاندې کړے شوې ده ـ مونږ د خپلو ټولو استاذانو شکریه اد کوو چې زمونږه رهنمائي یې اوکړه او مونږ په مقرره وخت کښې دا پراجیکټ مکمل کړو ـ

وسیم خان
محمد نواز

ketabton.com - The Digital Library

# وړومبے باب

## د محمد الیاس د ژوند حالات او ادبي خدمات

کور کلے او شخصي پېژندګلو

تعلیم

ملازمت

تصانیف

## کور کلے او شخصي پېژندګلو:

د پښتنو سيمه پۀ هر لحاظ ډېره زرخېزه خاوره ده ۔ هره سيمه يې پۀ هره حواله ډېر ارزښت او اهميت لري ۔ خو ځنې سيمې يې پۀ ادبي لحاظ ډېري زرخېزې دي ۔ پۀ دغۀ سيموکښې يوه د ملاکنډ سيمه هم ده ۔ چې د پښتو ادب پۀ حواله ډېره زرخېزه علاقه ده ۔ د ملاکنډ سيمې ډېر لوئې لوئې شاعران، اديبان او نقادان پېدا کړې دي ۔ د پښتو ادب لمن ته يې ډېر څۀ بخښلي دي ۔ پۀ دغه شاعرانو کښې صاحب شاه صابر، رحمت شاه سائل ، امجد شهزار او داسې نور ګڼ شمېر نامې د ي ۔ پۀ دغو کښې يو نوم او يو ستر شخصيت محمد الياس هم دے چې تر ډېرې مودې نه د خپل قلم پۀ ذريعه د پښتو ژبې او ادب خدمت کوي ۔

"محمد الياس د ضلع مالاکنډ د طوطه کان نومي کلي محله اسماعيل خېل کښې پۀ کال ۲ مارچ ۱۹۸۰ء کښې زېږېدلے دے ۔ د پلار نوم يې فريد الله خان دے ۔ مستقل استوګنه يې پۀ محله اسماعيل خېل طوطه کان کښې ده ۔ خو دا وخت د سعودي عرب پۀ دمام ښار کښې سره د خپلو بچو ژوند کوي"[1]

د خپل کلي طوطه کان ذکر پۀ خپل يو شعر کښې هم کوي چې:

ستا نه ښکلے ګنه دا د ښکاګانو ښار
ډير راته ياديږې طوطه کانه تۀ به چرته ئې[2]

"محمد الياس پۀ قام افغان او قبيله يوسفزو کښې د سلطان خېلو د زيلې ښاخ اسماعيل خېلو او پۀ اسماعيل خېلو کښې د سليمان خېلو سره تعلق لري ۔ د پلار نوم يې حاجي فريد الله خان دے ۔ چا چې خپل ټول عمر د استاذانو د مسئلو حل کولو د پاره پۀ منډو ترړو کښې تېر کړے دے پۀ خېبر پښتونخوا کښې پۀ وړومبي ځل د "ملګري استاذان ملاکنډ" پۀ نوم د يو تنظيم بنياد ايخودے وۀ او د دغۀ تنظيم وړومبے ضلعي صدر هم وۀ

د محمد الياس د نيکۀ نوم حاجي محمد اسماعيل وۀ ۔ د علاقې يو نوموړے او فېصله ساز مشر تېر شوے دے"[3]

ketabton.com - The Digital Library

## وادۀ اولاد:

"د محمد الیاس وادۀ د اپرېل په شپږیشتمه نېټۀ په کال دوه زره نهم کښې د ستر قانون دان سعدیاالله خان ایډوکېټ لور سره شوي وۀ ـ د محمد الیاس یو ځوے او څلور لوڼه دي ـ نومونه یې دا دي:

1. محمد ابرار
2. امامه الیاس
3. مریم الیاس
4. لائبه الیاس
5. سعدیه الیاس"[4]

## مشغله:

"کتاب لوستل او د بوټو صفائي کول یې لوئي مشغلي دي ـ په لوبو کښې یې فټ بال، کرکټ او ټېبل ټېنس د خوښې لوبې دي"[5]

## تعلیم:

"محمد الیاس تر نهم ټولګي پوري تعلیم په طوطه کان کښې کړے دے او لسم یې د ګورنمنټ هائي سکول ډهیري جولګرام نه په کال نولس سوه پینځه نوي کښې کړے وۀ ـ په لسم ټولګي کښې یې په خپل سکول کښې د ټولو نه زیاتې نمبرې اخستې دي ـ نامه یې اوس هم په نوټ بورډ لیک ده ـ دولسم یې پېښور نه او څوارلسم یې د پاکستانن مېرین اکېډمي کراچۍ نه په دوه زره یو کښې کړے وۀ ـ د ملازمت په دوران کښې یې د انټر نېشنل میري ټایم ارګنائیزېشن نه منظور شوي کورسونه په دوه زره یولس کښې حاصل کړل او هم په دغۀ کال یې د بین الاقوامي سمندري جهازونو د کپتان سند ترلاسه کړو ـ د دې نه علاوه یې هم وخت په وخت بلها کورسونه کړي دي"[6]

## ملازمت:

"په کال دوه زره یو کښې یې په جهازرانۍ کښې د "کېډ ټ" په حېث خپلې ذمه وارۍ شروع کړي د وړومبي جهاز نه پس محمد الیاس د نومبر په څوارلسمه نېټۀ یو ځل بیا د کېډټ په توګه د پاکستان نېشنل کارپورېشن سره د نوکرۍ معاهده اوکړه ـ تر دوه زره اتم پوري یې په پاکستان نېشنل شپنګ کارپورېشن کښې تر کېډ ټ نه واخله تر تهرډ آفیسر او بیا سیکنډ آفیسر( نیویګېشنل آفیسر) په توګه یې خپله وظیفه تر سره کوله ـ د کپتان سند اخستو نه پس یې په پیسک انټرنېشنل لائن سنګاپورکښې کار شروع کړو ـ په دوه زره پینځلسم کښې یې دا معاهده ختمه کړه ـ نن سبا په مېرین سروسز کمپني سعودي عرب کښې د دمام بر انچ د منېجر په حېث خپلې ذمه وارۍ ترسره کوي"[7]

ketabton.com - The Digital Library

# تصانیف

**چاپ اثار:**

1. شور مې د قلم پۀ ژبه راوله (۲۰۰۸ء)
2. د رڼا رنګونه (۲۰۲۳ء)
3. فکر مې سندره شوه (۲۰۲۳ء)
4. دېوالونو ته لګیا یم (۲۰۲۴)
5. د معذورئ پۀ اړه د ماشومانو کتاب(۲۰۲۴)
6. پردے حق (۲۰۲۵ء)

د محمد الیاس پۀ چاپ اثارو لنډه شان خبره کوو ـ

**"شور مې د قلم پۀ ژبه راوله:**

د محمد الیاس دا کتاب پۀ دوه زره اتم کښې پۀ شمېر پينځه سوه د المظهر پرېس بټ خېله نه چاپ شوے دے ـ دا د محمد الیاس وړومبۍ شعري مجموعه ده ـ پۀ دې کښې غزلې، قطعې او نظمونه شامل دي ـ د دې کتا ب ټرون محمد الیاس د خپل ماما نثار محمد نثار د ځوي عادل محمد پۀ نامه کړے دے چې د پښتو ادب سره یې بې کچه مینه وه ـ

**د رڼا رنګونه:**

د محمد الیاس دا کتاب د دسمبر پۀ میاشت کال دوه زره دوه ویشت کښې د اعراف پرنټر محله جنګي پېښور نه چاپ شوے دے ـ پۀ دې کتاب کښې غزلې، نظمونه، قطعې، سندرې او هائیکو هم شته ـ محمد الیاس د دې کتاب ټرون د خپل مور پلار پۀ نوم کړے دے ـ پۀ فکري توګه دې کتاب کښې ډېر موضوعات دي لکه پښتونولي، امن، خاوره ، مزاحمت او سیاست وغېره ـ دا کتاب د جسامت پۀ لحاظ هم لوئي دے ـ ګڼ اړخونه لري ـ ګڼ اصناف سخن لري ـ ډېر خوندور رنګ هم لري ـ

ketabton.com - The Digital Library

## فکر مي سندره شوه:

دا هم شعري ټولګه ده ـ په کال دوه زره درويشت کښې اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور نه چاپ شوې ده ـ د دې کتاب ترون د پښتو ژبې نوموړي شاعر ښاغلي رحمت شاه سائل په نوم شوے دے ـ په دې کتاب کښې غزلې قطعې، هائيکو، سندرې، نظمونه او حمد و ثناء سره سره مناجات شامل دي ـ په دې کتاب کښې د محمد الياس د کم عمرۍ د وخت شاعري هم شامله ده ـ د دې وړيکوالي د وخت شاعرۍ په حواله محمد الياس په خپله وائي چې:

" ما په خپل دې کتاب کښې هغه پخوانۍ د هلکوالي غزلې، او نظمونه هم چاپ کړي دي ـ کوم چې ما په اولني دوو کتابونو کښې نه دي چاپ کړې ـ ځکه چې د اولس د پاره پکښې څه خاص پيغام نشته ـ خو دا ځل مې په دې دريم کتاب کښې د شاملولو فېصله کړې ده ځکه چې ما پکښې د اولس د پاره څه نه څه پيغام اوليدو "8

## ديوالونو ته لګيا يم:

دا د ښاغلي محمد الياس څلورم کتاب دے ـ دا کتاب صرف او صرف د هائيکوګانو دے ـ دا کتاب په کال دوه زره څلورويشت کښې د ګران خپرندويه ټولني له خوا چاپ شوے دے ـ د دې کتاب ترون د مالاکنډ پوهنتون د پښتو څانګې مشر، شاعر، اديب، محقق او نقاد او د ډېرو کتابونو خالق ښاغلي پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب په نوم شوے دے ـ په دې کتاب کښې مسلسل، نظميه او غزليه هائيکوګاني دي ـ

## د معذورۍ په اړه د ماشومانو کتاب:

د معذورۍ په اړه د ماشومانو کتاب د ښاغلي محمد الياس ژباړلي اولني او په مجموعي توګه پنځم کتاب دے انګرېزۍ کښې دغه کتاب کرېسټين نېپر لېکلي دے کوم چې محمد الياس د انګرېزۍ نه پښتو ته ژباړلي دے ـ دا کتاب دوه زره څلورويشت کښې د ګران خپرندويه ټولني مينګوري سوات له خوا چاپ شوے دے ـ د کتاب ترون يې د خپلو لونړو په نوم کړې دې او د

ketabton.com - The Digital Library

معذورانو سره د مرستي پهٔ وجه يي دا کتاب د پښتو ژبي تکړه شاعر، سماجي کارکن او د صدا فاونډېشن چيئرمېن ښاغلي خور شيد عالم خورشېد ته ډالۍ کړې دے. دا کتاب د معذورانو د احساساتو ترجماني کوي ـ دا کتاب د ټولني د اجتماعي سوچ د ښه بدلون اړخ ته يو ګام دے ـ

## پردے حق:

پردے حق د ښاغلي محمد الياس د نثر اولني او پهٔ مجمعي توګه شپږم کتاب دے دا کتاب دوه زره پنځه ويش کښې د امن خپرندويه ټولنې چارسدې له خوا چاپ شوے دے ـ

د کتاب ترون يې د پښتو ژبي د استاد او شاعر پروفېسر ډاکټر شېر زمان سيماب پهٔ نوم کړې دې او د تنظيم "ادب پال ملګري خېبر پښتونخوا پاکستان" باني او وړومبي صدر وقار محمد وقار او د تنظيم تولو غړو ته يې د پښتو ژبي د خدمت د پاره ډالۍ کړې دې ـ

د ښاغلي محمد الياس د افسانو  پهٔ دغه کتاب کښې د پښتون وطن د رواجونو . غربت ـ دشمنۍ ـ د يو بل نه د کرکي او بدل اخستلو ، ورورولئ سائنسي او پهٔ خصوصي توګه د پردي حقونو پهٔ حقله خوندوري افساني ليکلې شوي دي ـ ټولي افساني مقصدي او اصلاحي دي الله دي وکړي چې د پښتنو ذهنونه بدل کړي او زمونږ ټولنه هم د ترقۍ او سوکالۍ پهٔ لور روانه شي ـ

## ناچاپ آثار:

1. څهٔ يوه قصه خو نهٔ ده (هائيکو)
2. زهٔ ورله کردار ته آئينه نسيم (شعري ټولګه)
3. هوا پېژندنه (د موسمياتو پهٔ اړهٔ نثري مجموعه)
4. زما د ژوند قصه ( ژوند ليک ، نامه يې ختمي نهٔ ده)
5. د ناکامۍ  پهٔ اړه د ماشومانو کتاب(د انګرېزۍ نه پښتو ته نثري ژباړه)

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

---

[1] محمد الیاس سره ټيلي فوني مرکه، ورځ اتوار، ۲۲،۰۵،۲۰۲۵ء، ماسپښين دوه بجې
[2] محمد الیاس، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۲۲
[3] محمد الیاس سره ټيلي فوني مرکه، ورځ سوموار، ۲۳،۰۵،۲۰۲۵ء، ماځيګر څلور بجې
[4] هم دغهٔ
[5] هم دغهٔ
[6] هم دغهٔ
[7] هم دغهٔ
[8] محمد الیاس، ، فکر مې سندره شوه اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،مخ ۱،۲

ketabton.com - The Digital Library

# دوېم باب

## د هائيکو روايت او ارتقاء

### د هائيکو ابتداء او ارتقاء

### په جاپان کښې د هائيکو هيئتونه

### هائيکو پهٔ پښتو کښې

ketabton.com - The Digital Library

# د هائيکو ابتداء

د هائيکو معنٰی ده مختصر کلام، دا د جاپاني شاعرئ يو مشهور او مقبول صنف دے او جاپاني ادب نه پښتو ادب ته راغلے دے ـ د هائيکو هر يو بند کښې درې مصرعې وي او دغۀ درېو مصرعو کښې يو مکمل خيال بيانولے شي ـ هائيکو دوه قسمه بحر کښې ليکلے کيږي ـ يو قسم ۵،۷،۵ بحر والا هائيکو چې مونږ ورته وړه هائيکو وايو ـ د دې وړې هائيکو اولنئ او درېمه مصرعه د يو بل سره هم قافيه وي ـ لکه مثال د اسماعيل گوهر دا هائيکو چې:

زۀ د للمي گل
دغۀ دے نصيب زما
هاړ کښې سوزېدل[1]

د هائيکو بل قسم يولس سېلابونو والا دے ـ چې ازاده هائيکو ورته وئيلے شي ـ دا قسم هائيکو پۀ هر بند کښې يولس سېلابه وي او د قافيې د پابندئ نه ازاده وي ـ لکه د محمد الياس دا هائيکو چې:

د جهالت راباندې ختمه ده خو
د دوو پۀ مېنځ کښې فېصله کؤمه
زۀ د ړندو پۀ ښار کښې کوڼ باچا يم[2]

د هائيکو ذکر شوي دغۀ دواړه قسمونه جاپاني ادب کښې ښۀ مستعمل دي او جاپاني شاعران پکښې شاعري کوي ـ وړې هائيکو ته د هائېکو کلاسيکي هيئت وئيلے شي دغۀ کلاسيکي هيئت چې جاپاني شاعرانو ماتؤلو او هائيکو يې د لنډ تنگ چوکاټ نه ازادوله نو دې ته يې د فري سټائل هائيکو نوم ورکړو د فري سټائل هائيکو پۀ تحريک کښې جاپاني شاعران او زاکاهوسائي (Ozaka Hosai) او تانيدا سنتوکا (Tanda santka) غوندې شاعران شامل دي ـ د هائيکو يو لوئې شاعر او نقاد گېوارا سنسوئي ورائيچي هائيکو کښې د ۵،۷،۵ د اظهار پۀ لاره کښې دېوال دے ـ د هغۀ استدلال دا هم وۀ چې ازاده هائيکو کښې يو تخليقي لمحه زياتې فني ښکلا سره بيانېدے

ketabton.com - The Digital Library

شي ـ دغهٔ ازاده هائیکو جاپاني، انګریزي ،اردو، پښتو او نورو ګڼو ژبو کښې لیکلے شوې ده ـ

څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې هائیکو د پښتو ادب خپل صنف نهٔ دے بلکه د جاپان پهٔ خاوره پهٔ یو اوږد نظم پهٔ صورت کښې زېږېدلے وهٔ ـ نن نه څلور سوه کاله مخکښې هائیکو پهٔ جاپان کښې وئیلې کېدله ـ هائېکو ته به اول پهٔ جاپان کښې "هائیکائي" وئیلې کېدل ـ د هائیکائي وړومبې مطلع به یو نوموړي شاعر لیکله ـ دغهٔ مطلع ته به "هوکو" وئیلې کېدل ـ د "هوکو" ارکان به ۵،۷،۵ وو او بیا به دغهٔ نظم نورو شاعرانو پهٔ مشترکه سر ته رسولو چې د یو لوئي نظم صورت به یې اختیار کړو ـ چې ارکان به یې اکثر ۳۵ یا ۵۰ وو ـ د وخت تېرېدو سره سره څنګه چې پهٔ نورو څیزونو کښې بدلون راغے نو دغهٔ شان ادب کښې هم تبدیلۍ راغلې د نوو تقاضو پهٔ وجه "هوکو" هم د هائیکائي د بندونو نه ازاده شوه او پهٔ نوي نوم هائیکو باندې مشهور شوه ـ

د هائیکو ابتداء په باره کښې ناهید سحر خپل کتاب "خپلو خوبونو له تعبیر لټوم" کښې داسې لیکي چې:

"په کال (۱۶۴۴ء-۱۶۹۴ء) د هغې وخت یو نومیالي شاعر "باشو" د هائیکائي د وړومبي ارکان ۵،۷،۵ پهٔ ترتیب سره بیئل کړل او یو ځان ته تخلیقي صنف مقام یې ورته ورکړو چې نوم یې هائیکو شو ـ دا د یو تخلیق کار د یو ځان ته سوچ بنیاد اوګرځېدو ـ د باشو هائیکو د اوولسو (۱۷) بحرونو پابنده وه خو د پابندۍ د ماتولو تجربه یې هم وه ـ ځکه چې د باشو د مرګ نه مخکښې چې کومې هائیکو لیکلې دي هغهٔ د اولسو چپو نه اوړېدلي دي دې نه پس د هائیکو د تکنیکي موضوعاتي د ترقۍ لاري شروع شوې ـ پهٔ شروع کښې هائیکو د یو انسان د داخلي احساساتو د تصویر کشي یو ښکلے فن اوګرځېدو"[3]

د هائیکو د ابتداء پهٔ حواله هم د شاعرانو ډېر اختلاف دے ـ ځنې شاعران وائي چې "باشو" د هائیکو بابا دے ځنې وائي چې د هائیکو اولنے لیکوال شهنشاه هوري دے او ځنې شاعرانو "ساګي" ته پهٔ جاپان کښې د بابائے هائیکو نوم ورکړے دے ـ

ډاکټر اسماعیل ګوهر پهٔ خپل کتاب "ما هائیکو کښې شاعري کړې ده" کښې د هائیکو ابتداء پهٔ باره کښې داسې لیکي چې:

ketabton.com - The Digital Library

"حقیقت دا دے چې باشو د اولسمې صدۍ شاعر دے په کال ۱۶۴۴ء کښې پیدا دے او په کال ۱۶۹۴ء کښې مړ دے ـ /هغۀ د هائیکو د دریم دور لوئي شاعر دے ـ د هائیکو اولنے شاعر شهنشاه هوري کاوا (۱۰۷۸ء-۱۱۰۸ء) او دویم سوګي ۱۴۶۱ء نه تر ۱۵۰۴ء نو ځکه ورته د بابائے هائیکو نوم ورکړے شوے دے ـ اصل کښې دا غلط معلومات په وړومبي ځل په کتاب "راته غوږونو کښې بنګړي شرنګوه" کښې درج کړي وو او نورو لیکوالو هم دغۀ تکرار کړے دے"[4]

## د هائیکو ارتقاء:

هائیکو جاپاني ادب کښې ښۀ مقبول شعري صنف دے ـ جاپاني شاعرانو ورته ښۀ مقبولیت ورکړے دے ـ د جاپان ګڼ شاعران دي چې ډېرې ښې هائیکو یې لیکلي دي ـ دلته به یې مونږه لنډ شان ذکر کوو ـ

## جاپاني هائیکو شاعران:

څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې د هائیکو ابتداء جاپان نه شوې ده ـ جاپاني شاعرانو ورته ښۀ مقبولیت ورکړے دے د جاپاني هائیکو ابتدائي شاعرانو کښې "سوګي سوکان Sogi Sokan" او "موري تاکے More Takay" اهم نومونه دي ـ دا سوګي (۱۴۲۱ء-۱۵۰۲ء) اهمیت دا دے چې هغۀ هائیکو یو ازاد صنف په طور مقبوله کړله ـ سوګي ته بابائے هائیکو نوم هم ورکړے شوے دے ـ د هغۀ مینه فطري منظرونو سره وه او په فطرت باندې یې ډېرې ښې هائیکو لیکلي دي ـ سوکان (۱۴۵۸ء-۱۵۴۶ء) خپل ژوند ډېر ساده تېر کړے دے ـ هغۀ به یو خانقاه کښې اوسېدو ـ په هائیکو یې لږ شان طنز و مزاح کړے دے ـ مور تاکے (۱۴۷۲۲ء-۱۵۴۹ء) هم خپل ژوند د شنتومت د یو پادري په حېثیت په یو خانقاه کښې تېر کړې دے ـ د دۀ په هائیکو کښې مذهبي حوالې موندلے شي د باشو اصل نوم متسو وۀ تخلص یې باشو وۀ ـ د کېلې تنې او پاڼو نه جوړه یوه جونګړه کښې اوسېدو ـ چې باشوان به ورته وئیلے کېدل ـ ځکه یې تخلص هم باشو شو ـ جاپاني ژبه کښې باشو کېلې ته وائي ـ باشو ډېر سپلانے شاعر وه ـ فطري مناظرو سره یې ډېره مینه وه ـ بدهـ مت نه ډېر متاثر وه ـ د بدهـ مت زیلي څانګې زین ازم منونکے وۀ ـ د هغۀ په شاعرۍ کښې فطرتي منظرونو نه علاوه د زین ازم د غفلیت فلسفه هم ګډه ده ـ فکر او فلسفه د هغۀ د شاعرۍ اهم عناصر دي ـ یو سالو سن هم خپلې شاعرۍکښې د باشو غوندې زیات تر د

ketabton.com - The Digital Library

فطري منظرونو عکاسي کړې ده هغهٔ د ژوند د ښائيستونو شاعر دے ـ کوباياشي اسا د طنز شاعر دے او ډېر د غريبۍ ژوند يې تېر کړے دے ـ د اسا باره کښې ډاکټر اسماعيل ګوهر خپل کتاب "ما هائيکو کښې شاعري کړې ده" کښې ليکي چې:

"اسا د طنز شاعر دے او ډېر د غريبۍ ژوند يې تېر کړے دے ـ غريبۍ د هغه په زړهٔ کښې د حشراتو سره مينه پېدا کړې وه ـ هغهٔ د يو زر نه زياتو هائيکو کښې د حشراتو ذکر کړے دے ـ هغهٔ له د کور آبادولو او ماشومانو ډېر ارمان وهٔ خو پينځوسو کالو پورې يې وادهٔ اونهٔ شو او ماشومان يې هم پرله پسې پهٔ وړوکوالي کښې مړهٔ شو ـ د دوه شپېتو کالو عمر کښې بل وادهٔ اوکړو خو درې ځلور مياشتې پس يې هغهٔ ښځه هم پرېښوده ـ کال پس يې درېم وادهٔ اوکړو کو دا ښځه يې د ماشوم پېدا کولو نه مخکښې مړهٔ شوه او د دې شاعر مرګ نه پينځه مياشتې مخکښې د دهٔ کور ته اور ولګېدو ـ هغهٔ يو ګودام کښې پهٔ اوسېدو مجبوره شو خو پهٔ داسې حال کښې يې هم هائيکو کښې د طنز و مزاح معني خېزه عناصر موجود وو لکه باشو وائي کور مې اور واخستو نو وروګې هم وتختېدې او دلته يې ما سره پناه واخسته داسې پهٔ هره هائيکو کښې طنز دے ـ خو د هر طنز پهٔ شا يو الميه ده"[5]

## په جاپان کښې د هائيکو هيئتونه:

هائيکو نن نه څلور سوه کاله مخکښې جاپان کښې وئيلې کېدله ـ هائيکو ته به يې جاپان کښې "هائيکائي"وئيل ـ د هائيکائي وړومبۍ مطلع به يو نوموړي شاعر ليکله ـ دغې مطلع ته به "هوکو" وئيلې کېدل ـ د "هوکو" ارکان به ۵،۷،۵ وو او بيا به دغهٔ نظم نورو شاعرانو پهٔ مشترکه سر ته رسولو چې د يو لوئي نظم صورت به يې اختيار کړو چې ارکان به يې اکثر ۳۵ يا ۵۰ يا ۱۰۰ وو ـ د وخت تېرېدو سره "هوکو" د هائيکو پهٔ نوم مشهوره شوه اول اول به پهٔ جاپان کښې ۵،۷،۵ محر والا هائيکو ليکلے کېدلې خو پهٔ نولسمې صدۍ کښې يو جاپاني شاعر ماسااوکاشيکي Masaoka shiki هائيکو يو ازاد صنف پهٔ طور تسليم کړله چې ۱۱، ۱۱، ۱۱ بحر کښې ليکلې کيږي ـ د شيکي دا خيال وه چې ۵،۷،۵ بحر والا هائيکو کښې شاعر خپل خيالات، احساسات او جذبات آسانۍ سره نهٔ شي بيانولے ـ نو ځکه شيکي او بيا نورو شاعرانو هم يو لسو چپو والا هائيکو ليکل شروع کړل او دا قسمه هائيکو جاپان سره سره ټوله دنيا کښې ليکلے او لوستلے کيږي ـ

جاپاني ثقافت کښې قدرت، موسمونه، ساګي، خاموشي او د لمحاتي احساساتو ډېر قدر دے او دا هر څهٔ پهٔ هائيکو کښې موجود دي ـ هائيکو ته

ketabton.com - The Digital Library

د جاپاني ادب روح وئيلے شي ـ ځکه چې په لږو الفاظو او وړوکي نظم کښې شاعر خپل احساسات بيانوي د جاپان په ليکوالو کښې هم ده هائيکو تعليم ورکولے کيږي نو ځکه جاپان کښې ۵،۷،۵ او ۱۱،۱۱،۱۱ دواړه هيئتونه ښۀ مستعمل دي او جاپاني شاعران پکښې شاعري کوي ـ

## هائيکو پۀ پښتو کښې:

څنګه چې مونږ ته معلومه ده چې هائيکو د جاپاني ادب پېداوار دے او جاپاني ادب نه دنيا نورو ژبو او ادب ته راغله لکه انګريزي، اردو او دغه شان پښتو ته هم راغله او پښتو کښې هائيکو ښۀ مقبوليت ومونده ـ پۀ پښتو کښې د هائېکو اولنی تجربه ډاکټر اسماعيل ګوهر کړې ده ـ د ډاکټر اسماعيل ګوهر د هائيکو کتاب "مسکا" پۀ نوم پۀ کال ۱۹۹۲ء کښې چاپ شوے دے ـ چې پۀ پښتو کښې د هائيکو وړومبے کتاب دے ـ ډاکټر اسماعيل ګوهر ته پۀ پښتو ادب کښې بابائے هائيکو هم وئيلے کيږي ـ اسماعيل ګوهر پۀ ۱۹۸۸ء کښې هائيکو ليکل شروع کړي وو ـ د اسماعيل ګوهر دا هائيکو د " د هزارې ګلونه"نومې کتاب کښې چاپ دي ـ دې نه مخکښې پۀ پښتو کښې چا هائيکو نۀ دي ليکلي ـ نو ځکه ډاکټر اسماعيل ګوهر ته بابائے هائېکو وئيلے کيږي ـ پۀ دې حقله د هزارې شاعر ښاغلي عثمان ملا جان د ډاکټر اسماعيل ګوهر پۀ کتاب "مسکا"کښې ليکلي دي چې:

"په کال ۱۹۸۴ء کښې پۀ هائيکو تخليقي تجربې شروع شوي اردو کښې محمد حنيف او وروستو ساجد علي ساجد هم پۀ هائيکو طبع آزمائيله ـ خو پۀ پښتوکښې د هائيکو اولنی تجربه ښاغلي اسماعيل ګوهر کړې ده ـ کله چې کال ۱۹۸۵ء کښې د اسماعيل ګوهر اردو هائيکو اخبارونو او ادبي مجلو کښې چاپ کېدې هم دغۀ ورځو شپوکښې اسماعيل ګوهر د هزارې ادبي محفلونو کښې د پښتو هائېکو هم اورولي او وروستو پۀ کال ۱۹۸۸ء کښې د هزارې ګلونه کښې هم د اسماعيل ګوهر هائېکو چاپ شوي دي"[6]

په کال ۱۹۸۸ء کښې د هزارې ګلونه نومې تذکره کښې د هائيکو عنوان لاندې چې د اسماعيل ګوهر کومې اولني هائيکو چاپ دي هغۀ دا دي:

ketabton.com - The Digital Library

مونږ پښتانۀ یو قصیدي نۀ لیکو
زمونږ قلم کښې د پښتو وینه ده
مونږ به دنیا کښې انقلاب راولو[7]

ــه

هله یې ست د ښکلو ماته اوکړو
چې مېخانه پۀ بله واوړېدله
کوڅه کوڅه کښې شوې چپې د مئیو[8]

ــه

لږ مې سینې ته رانزدې کۀ اشنا
قسم پۀ خدائے چې نور به هیڅ نۀ کوم
بس ستا پۀ غېږ کښې یو غزل لیکمه[9]

دا حقیقت دے چې اسماعیل ګوهر ته د پښتو هائیکو باني وئیلے کیږي دې حقیقت نه باوجود څنې ادیبانو د هائیکو ابتداء پۀ باره کښې ډېرې بې بنیاده دعوې کړې دي لکه میاشتنۍ لیکوال پېښور پۀ ګڼه کښې ډاکټر سهیل انشاء پۀ خپل لیک (وړومبنیان) کښې داسې لیکي چې:

د هائیکو باني قاسم محمود دے[10]

د قاسم محمود هائیکو پۀ کال ۱۹۹۱ء کښې د "نورنګ" نومې مجله کښې چاپ دي او قاسم محمود د کتاب "درې مصرئیزه نظمونه" کښې چې کوم لیکونه شامل دي هغه د حقائقو خلاف دي نوالبشر نوید "نورنګ" رسالي کښې داسې لیکلي دي چې:

"قاسم محمود ته به د جدید هائیکو باني اووایو ځکه چې قاسم محمود پۀ داسې دورکښې پښتو هائیکو لیکلي ده چې د دې طرز سره پښتو کښې څوک اشنا نۀ وه اوس یې چې دا درې مصرئیز نظمونو ته کتابي شکل ورکړو نو دا پۀ پښتو کښې د جدیدیت دعوٰی هم ده او تجربه هم ده"[11]

د قاسم محمود هائیکو پۀ ۱۹۹۱ء کښې "نورنګ" نومې مجله کښې چاپ دي او د اسماعیل ګوهر هائیکو پۀ کال ۱۹۸۸ءکښې "د هزارې ګلونه" کښې چاپ دي نو زما پۀ خیال نورالبشر نوید ته دغۀ حقیقت نه وۀ معلوم ـ د پروفېسر

ketabton.com - The Digital Library

قاسم محمود کتاب "درې مصرئیزه نظمونه" کښې نادم خټک هم دغهٔ دعوه کړې ده او داسې وائي چې:

"غټ اعزاز یې دا دے چې پښتو کښې د هائیکو باني دے"[12]

اوس کهٔ څوک هم دا خیالي دعوې ثابت کړې او ۱۹۸۸ء د اسماعیل ګوهر هائېکو نه مخکښې د قاسم محمود د هائېکو ثبوت پهٔ طور پېش کړي نو د دې دا دعوه به اومنلے شي ګني دا ټولې دعوې بې جوازه دي او زمونږ د تحقیق تر مخه ډاکټر اسماعیل ګوهر د پښتو هائیکو باني دے او سرکاري طور سره اسماعیل ګوهر د هائیکو باني ګڼلے شوے دے ـ

## پښتو کښې د هائیکو شاعران:

د اسماعیل ګوهر هائیکو نه پس پښتو کښې نورو شاعرانو هم پښتو کښې هائیکو لیکل شروع کړل ـ ۱۹۹۰ء کښې د علي دیپک قزلباش او قاسم بنوي هائېکو مردان رساله "انعام" کښې چاپ دي ـ بیا کراچۍ رساله "جرس" کښې هم هائېکو چاپ کېدلي ـ ځینو شاعرانو پهٔ لنډ بحر کښې او ځینو پهٔ اوږد بحرکښې هائیکو لیکلي ـ اسماعیل ګوهر خپل د هائېکو کتاب "ما هائیکو کښې شاعري کړې ده" کښې د دوارو ډلو شاعرانو نومونه درج کړي دي او لیکي چې:

"ما سره سره رب نواز مائل، نواز طائر، اظهار الله اظهار، ناهید سحر، حنیف حېدر شاه وافي، ډاکټر هرات خان ناصر، اختر حیات قمر، محمد اقبال خان، افسر علي افسر، محمد الله مقبل، روشن بنګش او نورو شاعرانو ازاده هائیکو لیکلې ده"[13]

کومو شاعرنو چې پینځه اووه پینځه یا نورو بحرونو کښې هائیکو لیکلي دي د هغیو نومونه دا دي:

"پروفېسر قاسم محمود، ریاض تسنیم، رومان ساغر، پرېشان داؤدزے، قېصر افریدي، علي کیمل قزلباش، کامران اچکزے، زرجان مداخېل، بسمل کابلګرامي، عبدالرؤف رفیقي، سلیم خان سلیم، ارشاد ولي خان او سیدو وال"[14]

تر څو چې پښتو ادب کښې د هائیکو د مجموعي ګره ده نو د ټولو نه وړموبے د اسماعیل ګوهر د هائیکو مجموعه "مسکا" د اداره علم و ادب بفه له طرفه چاپ شوې ده او د هغې وخت د ادارې صدر عثمان شاه ملاجان پهٔ کتاب خپله سریزه کښې لیکلي دي چې:

"په کال ۱۹۸۴ء کښې هزارې کښې پهٔ هائیکو تخلیقي تجربې شروع شوې اردو کښې محمد حنیف او وروستو ساجد علي ساجد هم پهٔ هائیکو طبع آزمائیله ـ خو پهٔ پښتوکښې د هائیکو اولنۍ تجربه د ښاغلي اسماعیل ګوهر ده"[15]

ketabton.com - The Digital Library

د "مسکا" چاپ کیدو نه پس تر ډېرې مودې د بل شاعر مجموعه نهٔ وه چاپ شوې اخبارونو او مجلو کښې به هائیکو چاپ کېدلې ـ مسکا نه پس د اظهار الله اظهار "راته غوږونو کښې بنګړې شرنګوي" پهٔ کال ۱۹۹۸ء کښې چاپ شوه ـ د هغهٔ دوېمه مجموعه "ستا د څونای تصویر پهٔ خوب اودهٔ دے" پهٔ کال ۲۰۰۳ء کښې چاپ شوه ـ

په کال ۲۰۰۳ء کښې د ډاکټر دیدار یوسفزي د هائیکو مجموعه "نسکورې لپې" چاپ شو ـ قاسم محمود ازاده هائیکو لیکلې ده ـ خو د کتاب نوم یې "درې مصرئیزه نظمونه" ایخودے دے ـ د ظفر خان ظفر د مزاحیه هائیکو مجموعې نوم "د ناوې لور" دے ـ د روشن بنګش کتاب "راشه کهٔ تودیږے" ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوے دے ـ د اختر حیات قمر کتاب "اترنګ" ۲۰۲۱ء کښې او د شیراز خان د هائیکو مجموعه "تاله هائیکو لیکمه"۲۰۲۲ء کښې چاپ دے ـ

د ځینو شاعرانو د هائیکو جدا کتابونه نهٔ دي چاپ خو د غزلو او نظمونو سره یې کتاب کښې هائیکو هم شاملې دي ـ د پروفېسر نواز طائر کتاب "لنډې ګامونه" کښې یو اتیا هائیکو شاملې دي ـ دا کتاب ۲۰۰۹ء کښې چاپ دے ـ د شیرین یوسفزي کتاب "د رنګونو پېوندونه" کښې هم ډېرې هائېکو پهٔ کال ۲۰۱۴ء کښې چاپ شوي دي ـ خپلو غزلو او نظمونو پهٔ مجموعو کښې نور هم ډېرو شاعرانو هائیکو چاپ کړې دي او دا سلسله روانه ده ـ

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

---

[1] اسماعیل گوهر، "مسکا"، اداره علم و ادب بفه، ۱۹۹۲ء، مخ ۴۸
[2] محمد الیاس،"دېوالونو ته لگیا یم" گران خپرندویه ټولنه ، ۲۰۲۴ء، مخ ۴۹
[3] ناهید سحر، "خپلو خوبونو له تعبیر لټوم"، پښتو اکیډمي پېښور، ۲۰۰۱ء،مخ
[4] اسماعیل گوهر، "ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"، اداره علم و ادب بفه، ۲۰۱۹ء، مخ ۳۰
[5] هم دغهٔ اثر،مخ ۱۳۴
[6] هم دغهٔ اثر،مخ ۱۱
[7] اسماعیل گوهر،"د هزارې گلونه"، مانسهره آرټس اینډ کلچرل کونسل،۱۹۸۸ء،مخ۴۱
[8] هم دغهٔ اثر،مخ۴۱
[9] هم دغهٔ اثر،مخ ۴۱
[10] اسماعیل گوهر، "ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"، اداره علم و ادب بفه، ۲۰۱۹ء، مخ۱۲
[11] هم دغهٔ اثر،مخ۱۱
[12] هم دغهٔ اثر،مخ۱۰
[13] اسماعیل گوهر،"د هزارې گلونه"، مانسهره آرټس اینډ کلچرل کونسل،۱۹۸۸ء،مخ۱۷
[14] هم دغهٔ اثر،مخ۱۹
[15] هم دغهٔ اثر،مخ۳۴

ketabton.com - The Digital Library

دریم باب
د محمد الیاس د هائیکو فني اړخ
د محمد الیاس د هائیکو هیئتونه
مسلسل هائیکو
غزلیه هائیکو
نظمیه هائیکو

ketabton.com - The Digital Library

## فن:

فن چې په انګریزۍ کښې ورته آرټ وئیلے کیږي یو تخلیقي اظهار دے ـ د فن په ذریعه انسان خپل جذبات، خیالات، تجربات او مشاهدات په ښکلي انداز خلقو ته پیش کوي ـ د اظهار په مختلفو رنګونو کښې لکه مصوري، موسیقي، شاعري، ډرامه او یا فلم سازي په ذریعه خلقو ته وړاندې کیږي ـ ادب کښې فن نه مراد هغه ښکلے او مؤثر انداز چې ادیب یا شاعر پکښې خپل خیالات خلقو ته وړاندې کوي ـ

فضل میر خټک په خپل کتاب "فضلیات" کښې د فن تعریف داسې کړے دے چې:

"د فن په زړه پورې تعریف نه کیږي خو دومره ده چې "فن" هنر ته وئیلے شي چې دا هر څه وي ـ دا شاعري وي که مصوّري ـ بله دا چې فن اظهار دے د هغه تخلیقي عمل چې د صنعت او د صنائع عناصر لري ـ خو د ادب په اصطلاح کښې مونږ فن یا آرټ نه دا مطلب اخلو چې د ژوند د داخلي او خارجي حقیقتونو د ادراک کولو نه پس د دغه حقیقتونو داسې په ښکلي او ښائسته انداز اظهاروکړو چې خوند او مزه هم اوکړي او د سماج او د معاشرې د اصلاح سره سره د وخت نمائندګي هم وکړي او د فن کار خپل شخصیت او تخیّل هم پکښې وبریښي ـ که ښکاره نه هم وي پټ به خو پکښې خامخا وي"1

## د محمد الیاس د هائیکو هیئتونه:

فن یو تخلیقي اظهار دے چې شاعر یا ادیب خپل جذبات او احساسات شاعرۍ په ذریعه اولس ته وړاندې کوي ـ محمد الیاس خپل د فن اظهار د هائیکو په ژبه کښې پیش کړے دے مختلف هیئتونو کښې یې هائیکو پیش کړي ده مونږ به یې دلته لږ شان ذکر اوکړو ـ

## د محمد الیاس د هائیکو هیئتونه:

په پښتو ادب کښې هائیکو مختلف هیئتونوکښې لیکلے کیږي ـ مختلفې تجربې پرې شوي دي او نوري به هم کیږي ـ پښتو ادب کښې هائیکو دوه هیئتونه مشهور دي ـ یو ۵،۷،۵ هیئت او بل ۱۱،۱۱،۱۱ هیئت ـ ښاغلي

ketabton.com - The Digital Library

محمد الیاس ورسره اضافه کړي ده او مسلسل هائیکو، غزلیه هائیکو او نظمیه هائیکو یې په دغهٔ هیئت کښې لیکلي دي ـ پښتو کښې د هائیکو لیک اوس ډېر زیات شوے دے ـ ښاغلي محمد الیاس خپل کتاب "دېوالونو ته لګیا یم" کښې مسلسل، غزلیه او نظمیه هائېکوګانې چاپ کړي دي ـ کوم چې چې دې نه وړاندې هیڅ شاعر هم نهٔ دي لیکلي ـ محمد الیاس پهٔ غزلیه او نظمیه هائېکو باندې تجربه ځکه کړي دا چې دې سره د شاعرئ خوند لا زیاتیږي ـ ځکه چې د غزلو او د نظمونو پهٔ شان مسلسل وي او د غزلیه هائېکو د هرې هائیکو پهٔ درېمه مصرعه کښې یو شان قافیه او ردیف هم وي ـ د ښاغلي محمد الیاس د مسلسل، غزلیه او نظمیه هائیکو ذکر کوو ـ

## مسلسل هائیکو:

ښاغلي محمد الیاس پهٔ خپل کتاب "دېوالونو ته لګیا یم" کښې مسلسل هائېکوګانې هم لیکلي دي ـ چې دې نه مخکښې نورو شاعرانو داسې قمسه هائېکو نهٔ دي لیکلي ـ محمد الیاس پهٔ هائېکو یوه نوې فني تجربه کړې ده ـ د هائیکو پهٔ درېؤ مصرعو کښې یو مکمل خیال بند وي ـ ښاغلي الیاس مسلسل هائیکو کښې د هره یوه هائېکو خیال جدا جدا دے ـ خو د هرې یوې مسلسل هائېکو درېمه مصرعه یو شان ده ـ مسلسل هائیکو دې ته وئیلے شي چې د هرې یوې هائیکو درېمه مصرعه به یوه وي ـ خو هرې هائېکو کښې به جدا جدا خیال وي لکه د محمد الیاس دا هائیکو:

چې د یو بل نه زارېدو به پکښې
چې بېلدېدو نو ژړېدو به پکښې
هغهٔ خوارهٔ وختونه چرته لاړهٔ[2]

هغهٔ د نیمې شپې خبرې
خورې خؤږې خوږې پستې خبرې
هغهٔ خوارهٔ وختونه چرته لاړهٔ[3]

چې به زما سره پهٔ ښنګ ګرځېدې
په هر اړخ به مې پهٔ ننګ ګرځېدې
هغهٔ خواره وختونه چرته لاړهٔ[4]

ښاغلي الیاس دې هائېکوګانو کښې اخري مصرعه "هغهٔ خوارهٔ وختونه چرته لاړهٔ" ټوله یوه شان راوستې ده ـ اخري مصرعه یې یو شان هم ده او پهٔ قافیه ردیف هم برابر ده ـ دې ته مسلسل هائیکو وائي ـ د محمد الیاس څهٔ نوري مسلسل هائیکوګانې:

ketabton.com - The Digital Library

هغهٔ چې تا به ماته وېله اشنا
خدایے دې زما نه مهٔ کړه بېله اشنا
هغهٔ خوارهٔ وختونه چرته لاړه[5]

قسم پهٔ خدائې رانه به هېرې نهٔ شي
بغېر له تا نه به مې تېرې نهٔ شي
هغهٔ خوږه وختونه چرته لاړه[6]

چې کله کله به ښېرې دې اوکړې
یا به پهٔ ور کښې اشارې دې اوکړې
هغهٔ خوارهٔ وختونه چرته لاړه[7]

## غزلیه هائېکو:

محمد الیاس یو بله تجربه هم پهٔ هائېکو کړې ده چې یوه قافیه او ردیف کښې یې هائیکو لیکلي دي او دې ته یې "غزلیه هائېکو" عنوان ورکړے دے ۔ د غزل هر یو شعر ځان له بېل بېل خیال لري ۔ د بېلو بېلو خیالاتو اشعارو نه غزل جوړیږي خو هائېکو د درېو مصرعو مختصر نظم دے او دې درېو مصرعو کښې یو مکمل بند وي ۔

غزلیه هائېکو هاغه هائېکو دي چې مصرعې خو درې وي خو اخري مصرعه یې یوه قافیه او ردیف وي ۔ لکه د مثال پهٔ طور به د محمد الیاس یو څو غزلیه هائیکوګانې را واخلو:

ښهٔ ورته پته ده چې مرمه پسې
بیا هم خبرې د بېلتون یې اوکړې
هغهٔ زما د حاله نهٔ وه خبر[8]

ما وې چې تل مې اورېدلې خدایه
خوږو خبرو یې تالی راکړې
څنګه د سر او تاله نهٔ وه خبر[9]

ketabton.com - The Digital Library

نن یې پهٔ ډېرو اسوېلو کښې اووې
ستا پهٔ قسمت کښې ولې نهٔ ومه زهٔ
هغهٔ د دغې سواله نهٔ وه خبر[10]

په د ې هائیکوګانو کښې قافیه "د حاله نهٔ وه خبر" او "تاله نه وه خبر" ، سواله نهٔ وه خبر" یوه د خو هره هائیکو ځان له یو بېل بېل خیال دے هرې هائېکو کښې بېله بېله خبره ده ـ خو د غزل پهٔ شان یوه قافیه کښې دي ـ ځکه ورته "غزلیه هائېکو" وئېلې کیږي ـ

د محمد الیاس خڼهٔ نورې غزلیه هائېکوګانې:

زما پهٔ مینه کښې لېواله دومره
وې یې چې دا مې صدقه کړه پسې
هغهٔ د سر او ماله نهٔ وه خبر[11]

هغهٔ زما پسې لېواله دومره
چې اوس پرهیز او دوا هم نهٔ کوي
ښکاري د پال او فاله نهٔ وه خبر[12]

چې محبت کښې تاؤ ترېخوالے راشي
زړهٔ ته نزدې د سر سودا شروع کړي
هغهٔ د دې وباله نهٔ وه خبر[13]

## نظمیه هائېکو:

ښاغلي محمد الیاس پهٔ یوه بله موضوع پهٔ هائېکو طبع ازمائیلې ده عنوان یې ورله "نظمیه هائیکو" ورکړے دے ـ پهٔ دا قسمه هائېکو کښې قافیه بدلیږي ـ د پښتو روایتي شاعرۍ کښې د غزل هر یو شعر ځان له یو جدا خیال لري ـ د قافیه او ردیف د پابندۍ خیال هم پکښې ساتلے شوے وي او د نظم پهٔ شعرونوکښې بېل بېل خیال نهٔ وي ـ پهٔ ټول نظم کښې یو خیال وي ـ قافیه کښې بدلیږي ـ بعضې نظمونه د قافیې او د ردیف د پاندۍ نه هم ازاد

ketabton.com - The Digital Library

وي ـ ښاغلي الياس په ګڼو موضوعاتو هایکو لیکلي دي لکه سیاست، مینه، حاکمان او وخت او داسې نور ـ

د ښاغلي محمد الياس ليکلې شوې نظميه هائيکو باندې رڼا اچوو:

## غدار حاکمان:

دلته کښې ښاغلي محمد الياس د "غدار حاکمان" عنوان لاندې نظميه هائيکو ليکلي دي لکه چې وائي:

زمونږ اصلي دښمنان دا خلق دي
څوک چې دلر اخلي پښتون وژني
نو خدايه د هغو وزرې اوسېزه[14]

هسې دعوې د مسيحا کوي خو
مونږ له په ګرانۍ يې څرمن وويسته
خدايه لږ د دو وزرې وسېزه[15]

راغونډ چې د پښتون په بربادۍ شي
زۀ يې په الوت خوشحاله نۀ يمه
خدايه د جرګو وزرې اوسېزه[16]

## وخت:

دلته ښاغلي الياس د وخت د عنوان لاندې نظميه هائيکو ليکلي دي لکه مثال دا هائېکوګانې:

نۀ راځي په بېرته تېر ساعت د ژوند
تا پکښې پردۍ ټپې وئيلې به
ځان ته چې د ځان د وېنا وخت وۀ نو[17]

داسې د غفلت ژوندون مې نۀ لګي
څنګ مې د دنيا کاروبار کړے وے
جماعت کښې د اذان د وېنا وخت وۀ نو[18]

چا وي چې ضمير د دهٔ اودهٔ دے لا
الياس به د خوارانو اواز پورته کړو
خان ته چې د خان د وېنا وخت وهٔ نو[19]

## اصلاح:

دلته کښې ښاغلي الياس د اصلاح د عنوان لاندې نظميه هائيکو ليکلي دي لکه چې وائي:

تهٔ کهٔ قام لوټې خانه ښهٔ نهٔ کوې
د ځان نه زهٔ پهٔ دغې مطمئين يمه
فکر د سماج کووم نو ښهٔ کووم[20]

نن راته يو خوار ليډر څهٔ داسې وې
تا چې د خپل قام خبره پرېښوده
زهٔ کهٔ پهٔ تا راج کووم نو ښهٔ کووم[21]

ښهٔ به شو کهٔ خپل باچا ته اووايو
تهٔ کهٔ پهٔ ما ظلم کوي بد کوې
زهٔ کهٔ احتجاج کووم نو ښهٔ کووم[22]

## پلاننګ:

د پلاننګ عنوان لاندې ښاغلي الياس نظمييه هائيکوګانې ډېرې ښکلې انداز کښې ليکلي دي ـ د پلاننګ هائيکو د عنوان لاندې ښاغلي الياس د اولس د بېدارئ او د خپل قام د خېر ښېګړې د پاره په پښتنه خاوره د عالمي طاقتونو د پلاننګ ذکر کوي لکه چې وائي:

په عالمي سطح خبرې کېدې
پښتانهٔ ولې بې روزګاره ګرځي
راځئ چې دوي له هم څهٔ کار اوګورو[23]

مونږ له د مخکښې نه حساب پکار دے
د يو پهٔ سر به څو ډالرې اخلي

ketabton.com - The Digital Library

راځئ چې نیت ئې د سرکار اوګورو[24]

ورته به لاړ شو خپل غرض له پکښې
دنیا ته به وایو ترهه ګر دي پکښې
په دې بهانه به قندهار اوګورو[25]

چې ځان وژنه شهادت ګڼي نو
خیر کۀ ملا پکښې پېسې وګټي
دې له به هم پکښې کردارو اوګورو[26]

**تاسو چرته وئ:**

ښاغلي الیاس د "تاسو چرته وئ" د عنوان لاندې پۀ مختلفو موضوعاتو هائیکو لیکلي دي لکه وائي:

بیا مې عزرائیل پۀ خوا راتېر شولو
ورشئ لړ خوا خوړو ته مې اووایئ
رنګ مې زیړ بدلو تاسو چرته وئ[27]

یوه ګیله مې درنه ډېره کیږي
د قام پۀ نوم باندې ښاغلي خلقو
ښار چې ورانېدلو تاسو چرته وئ[28]

یو ځلې ورغلے مېخانې ته وۀ
یو ځلې یې سرې سترګې لیدلې وې
الیاس چې ځنګېدلو تاسو چرته وئ[29]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالې

---

[1] فضل میر ختیک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ ۳۹۲
[2] محمد الیاس ،"دېوالونو ته لګیا یم" ګران خپرندویه ټولنه ، ۲۰۲۴ء، مخ۷۶
[3] هم دغه اثر، مخ۷۶
[4] هم دغه اثر مخ۷۶
[5] هم دغه اثر ، مخ۷۷
[6] هم دغه اثر ، مخ۷۷
[7] هم دغه اثر ، مخ۷۷
[8] هم دغه اثر ، مخ۹۲
[9] هم دغه اثر ، مخ۹۲
[10] هم دغه اثر ، مخ۹۳
[11] هم دغه اثر ، مخ۹۳
[12] هم دغه اثر ، مخ۹۳
[13] هم دغه اثر ، مخ۹۳
[14] هم دغه اثر ، مخ۳۹
[15] هم دغه اثر ، مخ۳۹
[16] هم دغه اثر ، مخ۴۰
[17] هم دغه اثر ، مخ۴۱
[18] هم دغه اثر ، مخ۴۱
[19] هم دغه اثر ، مخ۴۲
[20] هم دغه اثر ، مخ۵۸
[21] هم دغه اثر ، مخ۵۸
[22] هم دغه اثر ، مخ۵۹
[23] هم دغه اثر ، مخ۶۸
[24] هم دغه اثر مخ۶۸
[25] هم دغه اثر مخ۶۸
[26] هم دغه اثر ، مخ۶۹
[27] هم دغه اثر ، مخ۷۰
[28] هم دغه اثر ، مخ۲۹
[29] هم دغه اثر ، مخ

ketabton.com - The Digital Library

**ځلورم باب**
**د محمد الياس د هائيکو فکري اړخ**
**جماليات**
**حقيقت نګاري**
**قوم پرستي**
**تنقيد نګاري**
**طنز و مزاح**

ketabton.com - The Digital Library

**فکر:**

فکر د عربی ژبې لفظ دے مطلب يې دے غور و فکر کول، سوچ کول، پۀ يو څيز باندې ز هني توجۀ کول، فکر هغۀ ذهني عمل دے د کوم پۀ ذريعه چې انسان پۀ يوه خبره باندې غور کوي ـ دلائل لټوي، د مسئلې حل لټوي او رښتيا معلوموي ـ

په شاعرئ کښې فکر نه مراد هغۀ ژور خيال، نظريه يا پيغام وي چې شاعر ئې د خپلو اشعارو پۀ ذريعه خلقو ته رسوي ـ دا خيال، نظريه يا پيغام د ژوند پۀ هر اړخ کېدے شي ـ پۀ پښتو شاعرئ کښې هم فکر هغۀ سوچ يا پيغام وي چې شاعر د خپلو اشعارو پۀ ذريعه خلقو ته رسوي ـ پۀ پښتو شاعرئ کښې رحمان بابا پۀ شاعرئ‌کښې صوفيانه فکر او دنيا نه د بېزارئ غوندې فکرونه ميلاويږي ـ دغۀ رنګ د خوشحال خان شاعرئ کښې قومي غيرت بهادري او د ازادئ خيال غوندې فکرونه ښکاره معلوميږي ـ

**د محمد الياس هائيکو کښې فکري اړخ:**

هر يو شاعر پۀ خپلې شاعرئ کښې څۀ نا څۀ فکر، سوچ او پيغام لري ـ خپلې پۀ شاعرئ پۀ ذريعه يې خلقو ته رسوي ـ ښاغلي الياس خپلې شاعرئ کښې خصوصاً د هائيکو پۀ ژبه کښې مختلف پيغامات اولس ته وړاندې کولو کوشش کړے دے ـ ښاغلے الياس ژور فکر لري ـ محمد الياس سېل ګرے شاعر دے ـ پۀ مرچنټ نيوي کښې د کپتان پۀ حېثت پۀ ملکونو او د هغوي پۀ سمندرونو کښې ګرځي ـ ژوند يې مسافرئ سره تړلے دے خو د خپلې خاورې سره يې بې کچه مينه ده ـ محمد الياس دا وخت پۀ ټوله دنيا کښې ګرځي ـ د نورو ملکونو سياسي، سمماجي نظام نزدې نه ګوري خو د خپل ملک سياسي نظام، سماجې نظام او د خپل د ملک د حاکمانو کردار ته يې هم ډېر باريک خيال دے او دغۀ هر څۀ يې پۀ خپلې شاعرئ کښې بيان کړي دي ـ محمد الياس د خپل ملک هر يو نظام باندې ژور نظر لري او د دې شاعرانه اظهار يې د هائيکو صنف کښې کړے دے ـ لکه چې وائي:

لګيا دي قام پوري ملنډې کوي
دوي د وطن پۀ نوم وطن اوخوړو
دغه کم ظرفه پۀ قلار مې نۀ کړه[1]

بل طرف ته الياس صېب د نورو شاعرانو پۀ شان د پښتو غم هم ژړلے دے ـ د پښتون بې اتفاقي يې ژړلې ده ـ زړۀ يې د پښتون پۀ بې اتفاقئ درد کړے دے او دغۀ درد يې هائيکو کښې بيان کړے دے ـ لکه وائي:

ketabton.com - The Digital Library

وېمه چې کله به یو کیږي پښتون
زما پهٔ زړهٔ کښې لا تر اوسه پورې
دغه نشه دغهٔ خمار تاویږي[2]

دغهٔ شان ښاغلي الیاس خپلي هائېکو کښې پهٔ سیاسي لیډرانو تنقید کړے دے اول ښهٔ خوږې خوږې خبرې کوي او چې پهٔ تخت کښېني نو بیا یې خپل غریب اولس ته پام نهٔ وي خپلي عیاشۍ کښې مصروف وي ـ قام لوټي خو د خپل قام ورسره هیڅ غم او فکر نهٔ وي ـ لکه چې وائي:

راشۍ زما نه سیاست زدهٔ کړئ
زه چې باچا نهٔ وم نو بل څهٔ مې وې
اوس چې باچا یمه نو بل څهٔ وایم[3]

ښاغلي الیاس د ژوند نورو اړخونو سره سره د نورو شاعرانو پهٔ شان د غم جانان ذکر هم پهٔ هائېکو کښې کړے دے ـ پهٔ هائېکو کښې د خپل محبوب سره د خبرو اترو او محبوب سره پهٔ خبرو تېر شوي زاړه وختونو ارمان یې د هائېکو پهٔ ژبه کړے دے ـ لکه چې وائي:

هغهٔ چې تا به ماته وېله اشنا
خدائې دې زما نه مهٔ کړه بېله اشنا
هغهٔ خواږه وختونه چرته لاړه[4]

الیاس صېب محبوب ته مخاطب دے وائي چې زما محبوب به د جدائۍ نه ډېره یره کوله خو اوس یې خبرې نشته محبوب جدا شوے ے او زهٔ یوائے یمه ـ محبوب سره د تېر شوي وختونو ارمان یې کړے دے ـ

## جمالیات:

جمالیات د فلسفې یوه څانګه ده،جمالیات د ښائست، حسن، ذوق او د فن مطالعې ته وئیلې شي ـ جمالیات هغهٔ علم ته وائي چې پهٔ کوم کښې د یو څیز ښائست، نفاست او پهٔ فنکارۍ باندې رڼا اچولے کیږي او د دې څیزونو تعریف یا تنقید کیږي ـ جمالیات د انساني جذباتو، احساساتو او فطري طور سره د ښائست پېژندګلو... 

ketabton.com - The Digital Library

جمالیاتو پهٔ اړهٔ پروفېسر فضل میر خټک پهٔ خپل کتاب "فضلیات"کښې لیکي چې:

"جمالیات Aesthetic لغوي معنی د جمال علم، د حسن علم، هغهٔ عل چې د حسن و جمال سره متعلقه راولاړېدونکي هر سوال جواب کوي او د حسن سره ټول متعلقات پهٔ خپله لمن کښې رانغاړي ـ جمالیات د فلسفي یو اهمه څانګه ده ـ هر هغهٔ نقطه نظر چې بنیاد یې پهٔ حسن و جمال وي، جمالیاتي نظریه ده ـ جمالیات نه د فلسفیانو هغهٔ نظرئي هم مراد دي کومې چې د حسن او د حسن د خوبیو او د هغه پهٔ حقله څهٔ پېش کړې شوي دي ـ چې حسن پهٔ څهٔ کښې لیدے شي ـ په د ې تحقیق کوي او تشریح یې کوي ـ پهٔ یوي فن پاري کښې د حسن او جمال پوهر او مکمل شته والے جمالیات بللے شي ـ حسن چې پهٔ څهٔ کښ هم وي انساني جسم او اعظاء کښې ـ کهٔ د فن پارې پهٔ اجزاؤ کښې د حسن و جمال کمال دا دے چې خوشحالي او مسرّت به بکښې"[5]

شاعرۍ کښې جمالیات دې ته وائي چې شاعر خپل الفاظ تشبیهات، استعارا او د خیالات پهٔ ذریعه داسې ښائست پېدا کړي چې د اورېدونکي یا د ویونکي پهٔ زړهٔ باندې اولګي ـ لکه پهٔ شاعرۍ کښې د ګلونو رنګونو، د محبوب زلفان، د محبوب د زلفانو خوشبو، باران، سپرلے دا ټول جمالیات دي ـ

## د محمد الیاس پهٔ هائېکو کښې د جمالیات رنګ:

لکه د نورو شاعرانو پهٔ شان ښاغلي الیاس هم خپلې هائیکو کښې جمالیاتي نقشه راښکلې ده لکه چې وائي:

ستا د نظره تاوېدمه داسې
څنګ چې چاپېره د یوې نقطې نه
د پینسل څوکه پهٔ پرکار تاوېږي[6]

دې هائیکو کښې محمد الیاس د سترګو ذکر کړے دے سترګو کښې یې جمالیات لټولې دي ـ د محبوب د سترګو صفت یې کړے دے ـ چې زما د

ketabton.com - The Digital Library

محبوب سترګې ډېرې ښکلي دي ـ دلته کښې د محبوب د سترګو ښائيست والے جماليات ياد شوي دي ـ

او دغۀ شان ښاغلے الاسي بله هائيکو کښې وائي:

سم د رنګونو تماشې جوړې شي
په ژبه هم زما سپرلي غوندې شي
چې ستا غزل غزل ځواني ياده کړم[7]

دې هائيکو کښې ښاغلي الياس رنګونو او سپرلو له د محبوب ځوانې سره تشبيهه راکړې ده ـ الياس وائي چې کله د محبوب ځواني ياده کړم نو زما په تصوّر کښې رنګونه او سپرلي خوارۀ شي ـ دلته کښې رنګونه، سپرلي او محبوب ځواني جماليات دي ـ

د جمالياتو په اړۀ د محمد الياس نورې هائېکوګانې:

ستا به د نۀ راتلو بهانه جوړۀ شي
زمونږه ورځې به د هاړ يخې شي
چرته ناڅاپه کۀ باران راښکې شو[8]
ـه

هغۀ د نيمې نيمې شپې خبرې
خوږې خوږې، پستې پستې خبرې
هغۀ خوارۀ وختونه چرته لاړۀ[9]

## حقيقت نګاري:

حقيقت نګاري د ادب يو اهم صنف دے ـ چې پکښې د ژوند حقائق بيانيږي ـ هر هغۀ څيز چې څنګه دے هم هغۀ شان پېش کيږي ـ حقيقت نګاري هغۀ ادبي اسلوب دے کوم کښې د ژوند، سماج، انسان او د دوي سره د تړلي مسائلو حقيقي تصوير پېش کيږي ـ

ketabton.com - The Digital Library

حقیقت نګاري هغهٔ حقیقتونه بیانولو ته وائي کوم چې معاشره کښې موجود وي ـ دا حقیقتونه مثبت هم وي او منفي هم ـ يو شاعر او اديب چې معاشره کښې څهٔ ګوري او محسوس کوي نو خپلې شاعرۍ کښې يې اظهار کوي ـ دغهٔ حقیقت نګاري ده ـ ابوالاعجاز حفیظ صدیقي د حقیقت نګارۍ تعریف څهٔ داسې کړے دے چې:

"حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کے معنی ہیں، خارجی حقائق مثلا سماجی زندگی اور اس کے مسائل کو حتی المقدور معروضی صحت کے ساتھ بیان کرنا ۔کسی خیالی یا مثالی دنیا کی بجائے اس حقیقی دنیا کو موضوع بنانا"[10]

ترجمه:

د حقیقت پسندي یا د حقیقت نګاري معنٰی دا ده چې خارجي حقیقتونه لکه معاشرتي ژوند او د هغې مسائل حتّٰی المقدور معروضي صحت سره بیانول ـ د یوې خیال یا مثالي دنیا پهٔ ځاے دا حقیقیي دنیا موضوع جوړول ـ

فضل میر خټک د حقیقت نګارۍ تعرف پهٔ دې الفاظو کښې کړے دے چې:

"په ادب کښې د شي، د يو سړي او د يوې واقعې داسې بيا چې څنګه پېښه وي، څنګه پېښه شوي وي، څهٔ قسم ذاتي تاثر پکښې شامل نهٔ وي ـ پهٔ بيان کښې څهٔ داسې الفاظ استعمال نهٔ شي چې څهٔ بل رنګ واخلي ـ چې څنګه وي هغهٔ نقشه راښکلے شي حقیقت نګاري ده"[11]

حقیقت نګاري کښې ادیب ښهٔ اړخونه هم بیانوي او بد هم ـ رسمونه، رواجونه، روایات او رویې ښهٔ وي او کهٔ بد وي خو چې رښتیا رښتیا بیان شي نو دا حقیقت نګاري ده ـ پهٔ شاعرۍ کښې حقیقت نګاري مطلب دے چې هغهٔ طرز شاعري پهٔ کومه کښې چې يو شاعر د ژوند حقیقت حالات، جذبات، سماجي مسائل پهٔ حقیقي انداز کښې پېش کړي نو دا حقیقت نګاري ده ـ

## د محمد الیاس هائیکو کښې حقیقت نګاري:

ښاغلي الیاس پهٔ خپلې هائیکو کښې حقیقت نګاري پهٔ ډېر ښهٔ انداز کښې پېش کړې ده ـ خوبیانې او خامیانې يې دواړه ښهٔ انداز کښې پېش کړې دي ـ د سماج هر اړخ يې بیان کړے دے ـ د خپل ملک د سیاسي لیډرانو حقائق يې ټول پهٔ حقیقي انداز کښې بیان کړي دي لکه چې وائي:

ketabton.com - The Digital Library

ځو ځله مې مات شو د وطن ائين
الله دې نهٔ کړي چې چوري چوري شي
غټان غټان ورپکښې ځان ته ګوري[12]

هائيکو کښې ښاغلي الياس د خپل وطن د زوراور ليډرانو ذکر کړے دے چې زما وطن يې ټول برباد برباد کړو ـ زما د وطن قانون او ائين هيڅ پرواه نهٔ کوي خو بس ځان جوړوي ـ د ائين او قانون هيڅ خيال نهٔ کوي خو بس خپل فکر وي ورسره ـ دا يو حقيقت دے چې زمونږه ملک کښې دغه شان چل ډېر کيږي او دغهٔ شان بلې هائېکو کښې وائي چې:

نور به چې لا ځومره پرې مازغهٔ به خورو
هسې هم اختيار د دوي پهٔ لاس کښې دے
ځئ چې دغهٔ غلهٔ کړو باچاهان د ملک[13]

دلته کښې الياس صيب بيا د ملک باچاګانو تنقيد کړے دے ـ دا حقيقت دے چې زمونږه د ملک باچاګانو پهٔ لاس اختار خو شته خو صرف ځان د پاره ـ د اولس د پاره خالي ملي نغمې او تقريرونه دي پهٔ مونږ هر وخت غل باچا حکومت کوي ـ دا يو حقيقت دے ـ

د محمد الياس د حقيقت نګارۍ يوه بله هائيکو:

دا چې يو بل پسې لګيا يو مونږه
دې کښې ضرور به د چا ګوته وه نو
صفونه بې د ټېله نهٔ ورانيده[14]

## قوم پرستي:

قوم پرستي Nationalism يو داسې نظريه يا جذبه ده چې پکې يو فرد يا ګروه خپل قوم، ژبه، ثقافت او تاريخ ټولو نه اعلی ګڼي ـ قوم پرستۍ کښې د خپل قوم ازادي، ترقي او خودمختاري ضروري ګڼلے شي د يو قوم پرست سوچ دا وي چې زما قوم دې ټولو کښې ښهٔ وي ـ زما قوم دې ټولو کښې زورور وي ـ غرض دا قوم پرستي کښې هر څهٔ د خپل قوم د پاره کيږي ـ

شاعرۍ کښې قوم پرستي نه مراد هغهٔ جذبات او خيالات دي کوم چې د خپل وطن، خپل قوم، خپلې ژبې او خپل ثقافت سره د محبت، او وفادارۍ صورت کښې ښکاره کوي ـ داسې قسم شاعري کښې شاعر د خپل وطن د عظمت، ازادۍ ، خود مختارۍ ذکر کوي ـ خپل وطن سره مينه، غېرت ، دشمن نه نفرت کول، ازادي او خودمختياري قوم پرستي ده ـ پهٔ پښتو ادب

ketabton.com - The Digital Library

کښې د خوشحال بابا او د حمزه بابا شاعرئ کښې قوم پرستي ښکاره ليدے شي ـ

## د ښاغلي محمد الياس هائيکو کښې قوم پرستي:

ښاغلے محمد الياس ملک نه بهر اوسيږي ـ خو خپل زړهٔ يې د خپلې خاورې سره تړلے دے ـ د خپلې خاورې او وطن سره يې ډېره مينه ده ـ د خپل پښتون قام پهٔ درد خوږيږي ـ پښتنو سره چې کومه ناروا روانه ده هغه يې د هائېکو پهٔ ژبه کښې بيان کړې ده ـ د خپل اولس غم دے ورسره ـ دغهٔ غم يې داسې بيان کړےدے ـ

زمونږ اصلي دښمنان دا خلق دي
څوک چې ډالر اخلي پښتون وژني
نو خدايه د هغو وزرې اوسپزه[15]

دې هائيکو کښې ښاغلي الياس د پښتون وژنه او د حاکمانو ناروا سلوک ذکر کړے دے او هغهٔ خلقو ته يې ښېره کړې ده څوک چې پښتون پهٔ سر پېسې اخلي ـ

او دغه شان بلې هائېکو کښې وائي:

راغونډ چې د پښتو پهٔ بربادئ شي نو
زهٔ يې پهٔ الوت خوشحاله نهٔ يمه
خدايه د جرګو وزرې اوسپزه[16]

دې هائيکو کښې هم الياس صېب د پښتون غم ژړلے دے ـ د هاغه خلقو دې وزرې اوسوزي چې د پښتون پسې د بربادئ د پاره يو ځاے کيږي ـ نو الياس صېب وائيي چې دغهٔ خلق دې برباد شي چې څوک پښتون بربادوي ـ

ketabton.com - The Digital Library

او دغه شان د الیاس یوه بله هائیکو:

**نن** راته یو خوار لیډر څۀ داسي وې
تا چې د خپل قام خبره پرېښوده
زۀ که په تا راج کووم نو ښۀ کووم[17]

## تنقید نګاري:

په ادب کښي تنقید نګاري دې ته وائي چې پکښې پۀ یو تخلیق،شخصېت یا د یوې نظرئي جائزه اخستے کیږي د یو ې فن پاري خوبیاني او خامیاني پۀ منصفانه انداز کښي کتلے کیږي ـ

تنقید نګاري د ادب هغۀ عمل دے چې پۀ دې کښي د یو کتاب، نظم، افساني یا د یو شاعر د شاعرۍ خوبیاني او خامیاني کتلے کیږي ـ د تنقید د پاره انصاف او غیر جانبداري ضروري ده ـ د تنقید مقصد د ادب جاج اخستل دي ـ صرف خامیاني تنقید نۀ دے د خوبیانو نشاندهي هم پکښې کولے شي ـ

فضل میر ختک پۀ خپل کتاب "فضلیات" کښي د تنقید تعریف داسي کوي چې:

"پښتو کي تنقید د پاره جاج ټکے استعمالیږي ـ د جاج معنٰے ده د یو څیز کتنه، څېړنه او د هغي ښۀ او بد ، کره او کوټه پرې معلومول ـ پۀ انګریزۍکښي ورته Critisem وئیلے شي ـ معنٰی یې ده عدل و انصاف ـ اصلکښي دا ټکے یوناني ژبې نه اخستے شوے دے چې معنٰی یې د فېصله کول ـ تنقید د عېب لټولو نه واخله د ادب پارې تحلیل، تشریح، تفسیر، درجه بندي او شناسی پوري لاس وهنه کوي - Assessment, Estimate, Judgement, evaluation, Approeciation غوندې لفظنوه ورسره غاړۀ پۀ غاړه یون کوي"[18]

په شاعرۍ کښي د تنقید نګارۍ مطلب دا دے چې د یو نظم او یا د غزل د خوبیانو او خامیانو انصاف سره جاج اخستل اورېدونکو او لوستونکو ته دا خبره وړاندې کول چې شاعر خپل خیالات او جذبات څنګه پېش کړي دي ـ

ketabton.com - The Digital Library

## د محمد الیاس هائیکو کښې تنقید نګاري:

ښاغلي محمد الیاس په خپلي هائېکو کښې د تنقید موضوع هم خپله کړې ده ـ خاص طور سره په سیاسیت او په سیاسي لیډرانو یې ډېر تنقید کړ ے دے لکه چې وائي:

ملک یې دړي وړې کړو
تل به مې تنقید کوۀ
د بل باچا په لوبو کښې[19]

محمد الیاس د خپل ملک په باچا تنقید کوي ـ وائي چې زما باچا خو زما ملک وران ویجاړ کړو ما به په نورو باچاهانو تنقید کوۀ خو ما د ملک باچا زما ملک برباد کړو ـ ښاغلي الیاس دې هائیکو کښې په باچا تنقید کړے دے ـ

او دغۀ شان بلې هائېکو کښې وائي چې:

د دۀ په لمسه د جنت نه بهر
د دۀ د وجې بندېزونه په مونږ
ابلیس به څۀ شېطان به څۀ یاد کړمه[20]

ښاغلي الیاس دې هائیکو کښې په ابلیس طنز کړے دے ـ چې دۀ په وجه مونږه جنت نه بهر شولو ـ آدم د دۀ په لمسه جنت نه دنیا ته راغلو ـ کۀ د ابلیس لمسه نۀ وے او آدم د دۀ په لمسه جنت نه بهر نۀ وے وتلے نو کېدے شي چې مونږه ټول جنت کښې وے ـ دلته یې په ابلیس تنقید کړے دے ـ

بل ځاے کښې الیاس صیب په سوشل میډیا تنقید کوي او وائي چې:

ځمه چې زر زر یې فیس بک له ورکړم
په غرض چې نمائش یې اوشي
هغۀ کعبه کښې تصویر دې له ویستو[21]

دې هائېکو کښې ښاغلي الیاس په هغۀ خلقو تنقید کړے دے چې چرته څۀ ښۀ کار کوي نو دا یې نمائش د پاره په سوشل میډیا باندې خپور کړي ـ خپل نمائش کوي چې زۀ دې مشهور شمه اکثر خلق کعبې ته لاړ شي، هلته په

ketabton.com - The Digital Library

سوشل میډیا خپل تصویر شائع کړي چې زۀ هم کعبې ته راغلے یمه ـ دلته یې نمائش والو باندې تنقید کړے دے ـ

دغۀ شان بل ځاے کښې نمائش باندې طنز کوي:

وئیل یې کۀ چرته ترې څوک پند واخلي
پوره دنیا ته پۀ فیس بک یې ښودل
هغۀ چې سل روپۍ خیرات ورکوو[22]

الیاس صیب وائي چې داسې خلق هم شته چې لږ د چا سره څۀ مالي امداد اوکړي نو یو دم یې پۀ سوشل میډیا باندې نمئش ورکړي چې نور خلق یې هم اوګوري ـ داسې نۀ دي کول پکار ـ بلکه داسې کول پکار دي چې یو لاس سړے خیرات ورکوي نو بل لاس نۀ وي خبر ـ

## مزاح:

د مزاح مطلب دے خوشحالي، خندا، هاغه خبرې چې خوشحلي ترې پیدا کیږي ـ مزاح یو ښائسته ماحول پیدا کوي تنقیدي عنصر هم پکښې ضروري دے ـ ادب کښې د مزاح مطلب دے خوش طبعي، خندا، ښائسته خبرې کول، مقصد یې صرف او صرف خوشحالي ورکول وي ـ مزاح سنجیده خبرو له د خوشحالۍ او د خندا پۀ انداز کښې پیش کوي ـ

پروفیسر فضل میر خټک "فضلیات" کښې د مزاح تعریف داسې کوي چې:

"مزاح Homour ټوقې ټقالي، کله چې پۀ ظرافت کښې صرف خوش طبعي وي، نو دا مزاح دے"[23]

## د محمد الیاس هائیکو کښې مزاح:

ښاغلي الیاس هره یوه موضوع خپلې هائیکو کښې پیش کړې ده ـ پۀ دې کښې یوه موضوع مزاح هم ده ـ دا موضوع ښاغلي الیاس ډېره ښائسته بیان کړې ده ـ لکه وائي:

په زوړ او نوي باچا بحث کېدو
پکښې زما نه هم پوښتنه اوشوه
ما وې دا دواړه د یو خرۀ غوږونه[24]

ketabton.com - The Digital Library

الیاس صیب دا هائیکو د مزاح په طور پیش کړي ده ـ چې د نوي او د زوړ باچا تپوس کیدو چې کوم یو سم وه ـ محمد الیاس نه پکښې هم پوښتنه اوشوه نو شاعر دواړو باچاهانو ته د خر غوږونه د طنز اومزاق په طور اووئیل ـ

د محمد الیاس د مزاح یو بله هائیکو:

داسې څوک نشته دے چې پوهه یې کړي
پردي وادۀ کښې عبدالله ته ګوره
لېونے شوے دے بار بار تاویږي[25]

د محمد الیاس د مزاح څۀ نورې هائیکوګانې:

پردے سندا یې صدقه کښې ورکړو
بیا یې په لاره دمامې وهلې
پلار مې زما په شان سخي سړے وۀ[26]
ـه
هسې چې ښۀ اوکړۀ کۀ بد مې اوکړۀ
دا چې د پلار نه مشر مشر کیدو
د پلار د مخې مې راباندې کړه پرې[27]

ketabton.com - The Digital Library

# حوالي

---

1 محمد الياس ،"دېوالونو ته لګیا یم ، ګران خپرندویه ټولنه ۲۰۲۴مخ۵۴
2 هم دغه اثر ، مخ۴۶
3 هم دغه اثر ، مخ۵۲
4 هم دغه اثر ، مخ۷۷
5 فضل میر خټک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ۲۱۵
6 محمد الیاس ،"دېوالونو ته لګیا یم"، ۲۰۲۴ء، مخ۸۰
7 هم دغۀ اثر، مخ۸۱
8 هم دغه اثر، مخ۴۰
9 هم دغه اثر، مخ۷۶
10 ابوالاعجاز، حفیظ صدیقي، کشاف تنقیدي اصطلاحات، اسلام آباد،۱۹۸۵ء،مخ ۷۰
11 فضل میر خټک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ۱۸۵
12 محمد الیاس ،"دېوالونو ته لګیا یم"، ۲۰۲۴ء، مخ۳۷
13 هم دغه اثر، مخ۴۲
14 هم دغه اثر، مخ۴۴
15 هم دغه اثر، مخ۳۹
16 هم دغه اثر، مخ۴۰
17 هم دغه اثر، مخ۵۸
18 فضل میر خټک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ۱۹۵
19 محمد الیاس،"دېوالونو ته لګیا یم"، ۲۰۲۴ء، مخ۳۵
20 هم دغه اثر، مخ۹۶
21 هم دغۀ اثر، مخ۳۷
22 هم دغۀ اثر، مخ۴۲
23 فضل میر خټک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء، مخ۴۸۰
24 محمد الیاس،"دېوالونو ته لګیا یم"، ۲۰۲۴ء، مخ۳۸
25 هم دغۀ اثر، مخ۴۶
26 هم دغه اثر، مخ۵۵
27 هم دغه اثر، مخ۶۷

ketabton.com - The Digital Library

پینځم باب

د تحقیق خلاصه

نتائج

کتابیات

ketabton.com - The Digital Library

# خلاصه

ښاغلے محمد الیاس په جدید شاعرانو کښې يو اهم نوم دے پۀ کال ۱۹۸۰ء کښې د ضلع مالاکنډ طوطه کان کلي کښې زېږېدلے دے ـ د پلار نوم يې فريدالله خان دے ـ ښاغلي الياس تعليم تر لسمه پورې خپل کلي نه کړے دے نور تعليم يې پېښور او کراچۍ نه کړے دے ـ تول تعليم يې ماسټر پورې دے ـ ماسټر يې مېرين کښې کړے دے ـ د دې سره متعلقه نورې ډګرئ يې هم کړې دي ـ

محمد الياس د سعودي عرب دمام کښې پۀ مرچنټ نېوي کښې کپتان دے ـ هلته نوکري کوي ـ محمد الياس پۀ نېوي کښې کپتانۍ پۀ وجه مختلفو ملکونو کښې سيلونه کوي ـ نو زۀ به ورته سېل ګرے شاعر اووايم ـ ښاغلے الياس پۀ سمندرونو کښې ګرځي ـ ژوند يې مسافرئ سره تړلے دے ـ خو زړۀ يې خپلې خاورې سره هم تړلے دے او خپل د وطن سياسي او سماجي نظام يې د هائيکو پۀ ژبه کښې اولس ته ښکاره کړے دے ـ

محمد الياس د شاعرئ کتاب "ديوالونو ته لګيا يم" پۀ ۲۰۲۴ء کښې چاپ شوے دے ـ پۀ دې کتاب کښې پۀ مختلفو موضوعاتو هائيکوګانې ليکلي دي ـ محمد الياس الياس غزل او نظم هم ښۀ ليکي ـ هائيکو کښې محمد الياس يوه نوې تجربه کړې ده چې غزليه او نظميه هائيکوګانې يې پۀ رديف او قافيه سره ليکلي دي ـ د محمد الياس دې نه مخکښې هم د شاعرئ کتابونه چاپ دي ـ لکه "شور مې د قلم پۀ ژبه راوله" دا کتاب ۲۰۰۸ء کښې چپ دے ـ ورپسې بل کتاب "د رڼا رنګونه" پۀ کال ۲۰۲۲ء کښې چاپ دے ـ درېم کتاب "فکر مې سندره شوه" پۀ ۲۰۲۳ء کښې چاپ دے ـ د غزلو او نظمونو نه علاوه محمد الياس ډېره شاعري پۀ هائيکو کښې هم کړې ده ـ

ketabton.com - The Digital Library

# نتائج

د محمد الیاس د هائیکو مطالعه اوکړے شوه د هغهٔ د هائیکو مجموعه "دېوالونو ته لګیا یم" پهٔ کال ۲۰۲۴ء کښې چاپ شوې ده ـ محمد الیاس وطن نه بهر دے ـ پهٔ مرچنټ نیوي کښې کپتان دے ـ مختلفو ملکونوکښې سمندرونو کښې ګرځي او شاعري کوي ـ پهٔ مختلفو موضوعاتو لکه سیاسي، سماجي، جمالیات، تنقید نګاري یې د خپلې هائیکو موضوعات ګرځولي دي ـ د هائیکو ژبه یې اسانه ده ـ ژبه یې روانه او خوږه ده ـ لوستونکے پرې اسانۍ سره پوهیږي ـ

ketabton.com - The Digital Library

# سفارشات

د ښاغلي محمد الياس د هائيکو نه علاوه نورې شعري مجموعې هم چاپ دي ـ د هغه په شاعرئ باندې په هره حواله تحقيق کېدے شي او هره موضوع تحقيق کېدے شي ـ لکه مزاحمت ,رومانيت او سماجي شعور وغيره ـ دې مقاله کښې د ښاغلي الياس په هائيکو کښې فکري او فني اړخونو مطالعه کړې شوې ده ـ د محمد الياس د نظمونو او د غزلو مجموعې باندې مطالعه کېدے شي ـ تحقيق پرې هم کېدے شي ـ

ketabton.com - The Digital Library

# کتابیات

بنیادي مخاذ:

1. ، محمد الیاس ،"دېوالونو ته لګیا یم"، ۲۰۲۴ء

ثانوي ماخذ:

2. ابوالاعجاز، حفیظ صدیقي، کشاف تنقیدي اصطلاحات، مقتدره قومي زبان،اسلام آباد،۱۹۸۵ء
3. اسماعیل ګوهر،"د هزارې ګلونه"، مانسهره آرټس اینډ کلچرل کونسل،۱۹۸۸ء
4. محمد الیاس سره ټیلي فوني مرکه، ورځ اتوار، ۲۲،۰۵،۲۰۲۵ء، ماسپښین دوه بجې
5. محمد الیاس، فکر مې سندره شوه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور
6. اسماعیل ګوهر، "مسکا"، اداره علم و ادب بفه، ۱۹۹۲ء
7. ناهید سحر، "خپلو خوبونو له تعبیر لټوم"، پښتو اکیډمي پېښور، ۲۰۰۱ء
8. اسماعیل ګوهر، "ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"، اداره علم و ادب بفه، ۲۰۱۹ء
9. اسماعیل ګوهر،"د هزارې ګلونه"، مانسهره آرټس اینډ کلچرل کونسل،۱۹۸۸ء
10. فضل میر خټک، "فضلیات"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۱۹۹۹ء

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*